مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

حکیم روان ۲۰۲۲/۰۲/۱۴

مینه همدغسې ده!

مینه

ورځ،

ولږه

او پای نه پېژني.

ډېرو زخمي سرتېریو

د ژوند روستۍ شېبه کې

له اسارت د ځان ژغورلو په پار

لومړی د زړه پر سر،

سوري شوي جېب کې

پټ ساتل شوی عکس ښکل کړی دی په وچو شونډو

بیا یې ټوپک کې روستۍ پاتې سرې مرمۍ ته سر کې ځای ورکړی

تصویر کې سترګې خاندي،

سرتیری هم روستۍ شېبه کې موسک وي

***

مینه بندیز،

مینه

ګناه یا ثواب نه پېژني

د باران شپه کې ژرندګړي هم سړه ژرنده کې

ورکې شپې ته ترڅنګ ځای ورکړی.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وړې ښوونکې هم د خپل مېين په ياد ژوندۍ ده

او

بې تنخوا ډاکتره هم،

د چا لپاره لا روغتون ته ورځي.

مينه همدغسې ده.

چې کله ته وې

او کابل و

هره ورځ د عاشقانو ورځ وه.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ